

نن مناهل او شهروز ډېر خوشحال وو- هغوي مور پلار سره د باغ سېل له روان وو- د کورټول خلق د تلو د پاره تیارېدل- مناهل خپله رسۍ راواخسته او شهروز خپلې رېکټې راواخستې- مور پلار ئې د خوراک سامان راواخستو او په لویه ټوکرۍ کښې ئې کېښودۀ-



هغوي چې باغ ته
ورسېدل نو مناهل
په رسۍ ټوپونه وهل شروع
کړل- شهروز د مور سره بېډمنټن کوؤ
او پلار ټولو له تصويرونه وېستل - لږ
ساعت پس شهروز لوبه پرېښودله او يوه
چوکه ئې وموندله- په لاره تلو او بوټي
ئې پرې وهل-



مناهل وړته ووئيل، لالا، بُوټي مه وهه، دوي به خُوږ شي- شهروز وُوئيل هاهاها، ساده جينۍ! بُوټي نه خُوږيږي-دُوي زمونږ په شان ساه خو نهٔ لري چې خُوږ به شي- بُوټو به د چوکې ګوزار خوړو او وائي وائي به ئې کول- خو شهروز هيڅ نهٔ اورېدل-



چې څنګه ئې ورته چوکه راخلاصه کړه
نو د مچو ګبین پرې ولګېدو او مچۍ
ورپسې ناڅاپه راپارې شوې-



اوس شهروز مخکښې او مچۍ ورپسې-
اخر شهروز ځان د مالي په کوټه کښې
پټ کړو نو ایله ترې نه خلاص شو-



مناهل ورته ووئېل، لالا! ما درته وئیلي
هم وو چې بوټي خُوربږي- شهروز ووئیل،
دا ماته د بوټو خُوربولو سزا راکړې شوه-



شهروز بوټو له ورغے او هغوي
ته ئې ووئيل- ما معاف کړئ، ما
تاسو له ډېر تکليف درکړو- بوټو ورته ووې
مونږه معاف کړې خو بيا بوټي او ځناور
تنګ نه کړې- شهروز ووئيل، زۀ وعده
کووم چې داسې به بيا چرې هم نه کووم-
تاسو زما ملګري يئ- ټول په يو ځائے په
خندا شول-

# بګ بکس

## د اول جماعت د پاره

پاکستان ریډنګ پراجېکټ (USAID-funded Pakistan Reading Project) پینځهٔ کلن پروګرام دے چې ، د بېن الاقوامي ترقۍ د پاره امریکائي اداره (USAID) په مدد سره چلیږي- ددې پروګرام مقصد په پاکستان کښې د صوبائي او علاقائي تعلیمي محکمو په تعاون سره طالبعلمانو کښې د لوستلو مهارتونه ښهٔ کول دے-دې پراجېکټ په 2013ء کښې د اردو او سندهي لوستل د زده کړې مواد جوړول شروع کړي وو- تقریباً پینځلس زره استاذانو د اول جماعت ماشومانو ته ددې موادو ښودنه وکړه- استاذانو ته د تربیت ورکولو په وخت د ښودنې په نوؤ تجربو یا د موادو په حواله چې کومې ستونزې مخې ته راتلې نو پي- آر- پي د هغې ډېر په غور سره تجزیه کوله - دې سره سره پي -ار- پي د صوبائي او علاقائي تکنیکي ټولګي د غبرګاوي (feedback) او د پراجېکټ په مینځني دور کښې د هغو رپورټونو تجزیه هم وکړه، کوم چې د طالبعلمانو د لوستلو مهارتونو په حواله تیار کړي شوي وو- ددې ټولو نتیجو په بنیاد، پي -ار- پي د پښتو د لوست د ښودنې مواد هم تیار کړو. دا مواد به په شل سکولونو کښې استعمالیږي-

بګ بکس هم ددې ښودنې د موادو یو اهمه برخه ده- چې د اول جماعت د پاره لیکلې شوي دي-

استاذان به روزانه د دې کتاب په اوچت اواز د لوستلو مشق کوي- یو بک بګ به په یوه هفته کښې لوستلے شي- د هر بګ بک په شاتني مخ د ماشومانود لوست او تفهیم مهارتونو د ودې د پاره سوالونه او سرګرمۍ ورکړې شوي دي- په اوچت آواز د لوستلو په وخت مختلف اصول په نظر کښې ساتلي شوي دي مثلاً د مخصوصو موضوعاتو انتخاب، د ماشومانو ذهني سطح، ساده او مناسب ټکي او د ماشومانو دلچسپۍ د پاره واضحه تصویري خاکې وړاندې کول وغېره-

امید لرو چې ددې محنت او کوشش په نتیجه کښې استاذان د ماشومانو د لوستلو مهارتونه مثلاً صوتي اګهي، علم الاصوات، دالفاظو ذخېرې ،د لوستلو رواني او سوچ کولو ته عملي جامه واغوندوي- خصوصاً دا بګ بک به د سکول د لائبرېرۍ برخه وي چې راتلونکي ماشومان هم ددې نه فایدې واخلي او پښتو لوستلو کښې د دلچسپۍ دا سلسله روانه په روانه پاتې شي-

مونږ دا امید کوو چې د پاکستان ریډنګ پراجېکټ دا کوشش په پرائمري سکولونو کښې د ماشومانو د لوست معیار ښهٔ کولو کښې مددګار ثابت شي.

پاکستان ریډنګ پراجېکټ د زده کړې دا مواد تیار کړے دے:

- ټي ائي جي ماډیولز
- ویډیوز
- بګ بکس
- سبقي منصوبې
- ورک بکس
- فلیش کارډونه
- د ارکانو/ هجو چارټونه
- د زبر، زېر، پېښ چارټونه



## ورومبۍ ورځ (خبرې اترې، پېشن ګوئي او سابقه معلومات)

### د لوستلو نه وړاندې

» ستاسو په خيال کښې نن به مونږ د څۀ متعلق قيصۍ وايو؟
» تاسو ته په تصوير کښې څۀ څۀ ښکاري؟
» دا خلق څۀ کوي؟ دا کوم ځائے دے؟
» تاسو چرې سېل له تلي يئ؟ چرته؟
» ټولو ملګرو ته د خپل سېل متعلق ووايئ۔

### د لوستلو دوران کښې

» د صفحه 3 تصوير وښايئ او تپوس وکړئ چې په دې تصوير کښې تاسو ته څۀ څۀ ښکاري؟
» مناهل، شهروز د بوټو وهلو نه ولې منع کړو؟

### د لوستلو نه پس

» په قيصه کښې څوک څوک وو؟
» دا قيصه په کوم ځائے کښې روانه ده؟ د قيصې په اخره کښې څۀ وشو؟

## دويمه ورځ (د ارکانو مشق)

### د لوستلو نه وړاندې

» نن تاسو د کومو کومو تورو او هجو اوازونه زده کړي دي؟
» په چارټ کښې هم هغه توري/هجې په ګوته کړئ۔ مطلوبه جواب: ن، نا
» نن به مونږ د "ن" او "نا" لرونکې ټکي وايو۔ تاسو ماته داسې ټکي وئيلې شئ چې دا اوازونه پکښې راځي؟

### د لوستلو دوران کښې

» په صفحه 1 جمله "مور پلار ئې د خوراک سامان هم راواخستو" ولولئ او تپوس وکړئ چې په دې جمله کښې "ن" لرونکې ټکے وښائې۔ مطلوبه جواب: "سامان"۔
» ټکے "سامان" د لاسو نو پړقولو سره په هجو کښې بېل کړئ۔ /سا/ /مان/

### د لوستلو نه پس

» په صفحه 1 باندې ګوته کېږدئ او تپوس وکړئ چې په دې صفحه کښې داسې ټکي شته چې تورے "ن" پکښې راځي؟ مطلوبه جواب: روان۔

## دريمه ورځ (ذخيره الفاظ، مورنۍ ژبه/د ماحول ژبه)

### د لوستلو نه وړاندې

» د سرپاڼي په تصوير کښې ټوکرۍ ته اشاره وکړئ او تپوس وکړئ ، تاسو دې ته څۀ وائي؟

### د لوستلو دوران کښې

» په صفحه 3 جمله "لالا، بوټي مۀ وهه، دوي به خوږ شي" مناسب اواز او لب و لهجه کښې ولولئ او ماشومانو ته ووايئ چې هغوي دې دا جمله په خپله ژبه کښې ووائي۔
» د مچو تصوير ته اشاره وکړئ او تپوس وکړئ چې دې ته تاسو څۀ نوم اخلئ؟
» ماشومانو ته ووايئ چې دا جمله په خپله ژبه کښې ووايئ "تنګيال مخکښې او مچۍ ورپسې وې"۔

## څلورمه ورځ (د چهپايې تصورات)

### د لوستلو نه وړاندې

» ماشومانو ته ووايئ چې اوس به مونږ قيصۍ لوستل شروع کوو۔ د کتاب مخه او شا ورته وښايئ۔ د سرپاڼي، د قيصې نوم، ليکوالو، د تصويرونو جوړونکيو نومونه ولولئ او په نخښه کړئ۔

### د لوستلو دوران کښې

» د کتاب صفحه 1 راواړوئ او تپوس وکړئ چې قيصې د کوم اړخ نه شروع کړو؟
» ورومبۍ کرښه ولولئ او تپوس وکړئ چې اوس به د کوم اړخ نه نوې کرښه شروع کوو؟
» تاسو ته په دې تصوير کښې څۀ څۀ ښکاري؟

### د لوستلو نه پس

» په صفحه 4 دمه واخلئ او تپوس وکړئ، ددې مخ څۀ نمبر دے؟
» ددې مخ اخرې ټکي باندې ګوته کېږدئ۔

## پينځمه ورځ (ذخيره الفاظ، محاورې)

### د لوستلو دوران کښې

» په صفحه 3 جمله "دوي زمونږ په شان ساه خو نۀ لري چې خوږ به شي"۔ ولولئ او ماشومانو ته ووائي چې "خوږ" په جمله کښې استعمال کړئ مثلا، بوټو وهلو سره هغوي خوږېږي۔
» په صفحه 7 جمله "ماته د بوټو خوږولو سزا راکړې شوه"۔ وضاحت په خپله جمله کښې وکړئ، مثلا، هغۀ ته د مشرانو خبره د نۀ منلو سزا ورکړې شوه۔ او د ماشومانو مدد وکړئ چې هم دغه شان جملې جوړې کړي۔

## شپږمه ورځ (خبرې اترې، ذاتي ژوند سره تعلق)

### د لوستلو نه وړاندې

» ستاسو په خيال کښې د دې قيصې بل څۀ نوم کېدے شي؟
» مناهل ځان سره لوبو له څۀ څيز باغ ته وړے وُ؟
» کۀ تاسو سېل له ځئ نو ځان سره به څۀ څۀ وړئ؟

### د لوستلو دوران کښې

» شهروز مور سره کومه لوبه کوله؟
» چې چوکه ئې ومونده نو څۀ ئې ورسره کول؟

### د لوستلو نه پس

» ستاسو په دې قيصه کښې کوم کردار خوښ شو؟ ولې؟
» ستاسو په خيال کښې هغۀ بوټي وهل نو ښۀ کار ئې کوو کۀ بد؟ ولې؟
» کۀ تاسو دا قيصه په خپله خوښه ختموئ نو څنګه به ئې ختموئ؟

www.pakreading.org

This publication is made possible by the support of the American people through the United States Agency for International Development (USAID). It is produced by the USAID-funded Pakistan Reading Project in collaboration with the provincial/regional government. The contents are the sole responsibility of the project and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government.

د دې موادو خپرونه د امريکائي خلقو په مرسته د امريکې بين الاقوامي ترقي اداري په لاس ممکن شوې ده۔ دا مواد يو ايس ايډ- پاکستان ريډنګ پراجېکټ د صوبائي/علاقائي حکومتونو په مرسته او شراکت سره تيار کړي دي۔ ددې موادو ټوله ذمه واري د پاکستان ريډنګ پراجېکټ ده۔ او دا ضروري نۀ ده چې دا د يو ايس ايډ يا د امريکائي حکومت د نظريې عکاسي کوي۔